(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځيګر پاتې شو
هغه منګي هغه ګودر پاتې شو

څنګه منزل ته زر ور رسېږم
چې نيمه لاره کښې دلبر پاتې شو
آخر پښتون يم مېلمه څنګه وشرم
د يار غم کور کښې د ځيګر پاتې شو
اشنا زما د سره کوز نهٔ کړلو
د عشق ښېښې مې په سر پاتې شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کور خوا کښې مې څادر پاتې شو

پاګل منصور په جانان هر څهٔ بائلهٔ
تش د لفظونو جادوګر پاتې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو شراب څښل تاتوبې اوویستې
ځکه ساقي د میکدې اوویستې

زه دې خبر نه کړمه والوتلې
څنګه په چل چل کښې دې پښې اوویستې

شیخ چې د ترکو په محفل ورګډ شه
روګوره غاړې نه یې تسبې اوویستې

غربته روک شې د لاسه هغې
راته د لاسونه کړې اوویستې

ی
تا به منصور غوندې په دار اوځړې
که دې جانان نعرې اوویستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مابڼې

وه د کالام غیږه کښې لوے شوي یه
خوب وینم که ته وے چې مابڼ ته ځو

جیب کښې یو پیسه درسره نشته دے
هسې تش په خوله وے چې مابڼ ته ځو

زه درسره لاړ بانډې قدم نا خلم
څنګه ته لا څه وے چې مابڼ ته ځو

څنګه د یخنۍ نه ګوګله شوے یې
بیا به را ته نه وے چې مابڼ ته ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چي نهٔ دې درځي څواله غټې سرې دے
څوارزړګيه جوړې ستا څوښ شوے دے" دے

دجانان مخ ګلستان بړېتې ازغي دي
دګلاب په شان ېې يو يو اسنګے دے

پښتون ياره د دې خبرې مهٔ کړه
وخت په منډه راته زغلي ګرندے دے

څهٔ کهٔ عمرېې او ويا کلونه تېر شهٔ
لا څو فکر د بزمي بابا زلمے دے

زما بدي شي او څوا ته مې کښېږي
دا منصور څو عجيبه شان لېونے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ښوابڼهٔ ښوابڼهٔ مې د قیصې خلق
څهٔ رنګ دي لاستا د ښنادرېٔ خلق

تاچې مې ریبنې ریبنې کړېوان ګنډهٔ
وو به تماشه ټول د محلې خلق
تهٔ چې ماسره په څنګ کښېې اودېږي
یم حیران په څهٔ اخلي لمبې خلق
یو رقیب ښونهٔ دے چې به پوئے شي
څنګ به پوهوم دې د کوڅې خلق
یو ارمان ئې دوي له پوره نهٔ کړلو
څله کړي خدایانو ته سجدې خلق
دا راته د حورونه ښوابڼهٔ دي زیات
دا زما د کلي بې اسرې خلق

مرګ نه د منصور روستو به او کوري
هر ځائے کښې ئے او ستائي نغې خلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبنګي مې په مخ باندې راماتې شوې
ته چې د وفا لاره کښې پياتې شوې

اوس به د مُلا دخوانه پاسمه
بيا د محبت سندرې زياتې شوې

ما چې پکښې خاورې په سرنوستې وې
منن هغه کوڅې زمانه پاتې شوې

نه پُخلا کېدلو نه مجبوره شو
اوبنګي چې اشناته ننواتې شوې

کړې منصور خبرې درقيب دچم
څکه يې حوصلې د زړه ميراتې شوې

ما د وحشت په تورو شپو کښې سحر رونه لید و

یار مې د کلي په کوڅو کښې سحر رونه لید و!

دیار د هجر په دیوه باندې مې ځان وسپړه

لکه پتنګ مې سرو لمبو کښې سحر رونه لید و

ماته د ژوند د بنګلا څڅه پته ده څڅه ته وائي

ما زندان تورو تیږو کښې سحر رونه لید و

په سپین رخسار باندې يې زلفې لکه شپې خورې دي

ن مې د یار په اننګو کښې سحر رونه لید و

بېګاه مې خوب کښې د رقیب ګرېوان تار تار کړو ګله

چا په ریبنو ریبنو جامو کښې سحر رونه لید و

مونږ ه تیکرې د ژوندون په هر ډګر رنځورې

مونږ ه په دې سپېرو تندو کښې سحر رونه لید و

# سندره

خلق وریپسي تلي په اوښ به ځي سوره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
موږ کور سنبال کړے دے

روس به مېلمنه راوړي زهٔ د پر خوشحالېږمه
زهٔ د خوشحالۍ نه په جامو کښې نهٔ ځایږمه
مخکښې به جنجیان وي اوښ به روستو کېځاوه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
موږ کور سمبال کړے دے

کله مېلمنه چې زموږ کښېنوي پالنګ کښې
ناستې سهېلۍ به ورسره وي ننګ په ننګ کښې
څوک به ورله توره چاے، څوک به ورله شنه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
موږ کور سمبال کړے دے

واۍ د توپچي منصور ناوې خفه کېږمه
روس به د پر عالم راشي غلې شه ژړېږمه
تاله به کوسۍ او مېنز ماله به سهره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
موږ کور سمبال کړے دے

